# تنکي پاڼي

کاڼۍ ته ورکړه دخپل حسن کتاب
پکي غــــزلې د پښتو جوړ وي

دشعرونو غونډ

محمد طاهر کاڼي

۱۳۷۹کال

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تنکی پاڼې

## د شعرونو غونډ

کاڼي ته ورکړه د خپل حسن کتاب

پکې غزلـــې د پښـــتو جـوړوي

محمد طاهر کاڼی

۱۳۷۹ل کـــال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

د مور سپېڅلې، نه هېرېدونکې او ابدي مينې ته ! هغې مينې ته چې له ما سره يې زما په خټه کې پښتو ژبه ملګرې کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم: تنکۍ پاڼې

شاعر: محمد طاهر کاڼی

چاپشمېر: ۵۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۷۹ لمریز/۲۰۰۰ زېږدي کال

چاپځای: مسکو

چاپ وار: لومړی

یادونه: د دې ښنبیر د چاپ ټولې ربنتې له شاعر سره خوندي دي. د بیا چاپ لپاره یې د شاعر سلا او هوکړه حتمي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

ځینې ادبي مورخین او نقادان په دې باور دي، چې په ځینو ټولنو کې ناوړه سیاسي، اجتماعي او اقتصادي حالات کله کله د ځینو ښو ادبي جریانونو د پیدا ایښت سبب کیږي.

زموږ د هېواد د دوو لسیزو د ناوړه سیاسي، اجتماعي او اقتصادي حالاتو په جریان کې هم په پښتو شعر یو داسې جریان راوټوکېده چې شاعرانو یې د نویوالي خواوو ته تمایل درلود او هڅه یې کوله چې خپل شعرونه د هنر او ښکلا په ګاڼه سمبال کړي. سمبولیزم ته مخه د دې پړاو د زیاتره شعرونو ځانګړنه ده. د دې پړاو شاعران د سمبولونو په انتخاب د تصویرونو په جوړولو کې خپل استعدادونه ازمایي، تجربې کوي او ورځ تر بلې د تصویرونو او د سمبولونو په غوره کولو کې پیاوړي کیږي، نوښت او تازه ګي د دې ډلې پر شعرونو وزرونه غوړول.

د دې ډلې سر لاري: اروانباد اسحق ننګیال، عارف خزان، پیر محمد کاروان، احمد تکل، کاوون توفاني، لطیف بهاند ، محمد اصف صمیم او ځینې نور شاعران دي.

د دې ډلې شعري تجربې زموږ د ځوان نسل مخې ته پرتې وې او ډېرو ځوانو شاعرانو په خپلو شعرونو کې دغو نویو تجربو ته په پاملرنه د هنر خواته زیاته توجه وکړه او اوس موږ په خپله فرهنګي حوزه کې په لسګونو داسې ځوان او تنکي ځوانان شاعران لرو چې غزل، نوي او ازاد شعرونه یې د شعریت په ښېګڼو پوره دي. له ولسي او ولسي ډوله شاعرانو پرته د نورو هغو په مجموعو او متفرقه شعرونو کې د شعرونو تله پر نظمونو درنه ده. تر کومه ځایه چې زما مطالعه ده په دې روان پېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې زموږ د ځوانو شاعرانو په اثارو کې تشې منظومې ډېرې لږ موندی کیږي او د دوی اثار د شعر او سني لوازم لري او دا بهیر نور هم د پرمختیا پر لور روان دی.

زموږ ځوان شاعر محمد طاهر کانې، چې هم ښه هنرمند دی، هم ښه اواز لري. د سندرو په ویلو کې هم ښه استعداد لري. په اروپایي ادبیاتو کې د مطالعې خاوند دی. روسي ژبه یې د کمال ترحده زده ده. له دې برسېره ژورنالیستیک استعداد ورسره مل دی. په ماسکو کې د افغانانو خپرېدونکې د «کابل» جریده هم د ده په مسولیت خپریږي.

د دې ټولو کارونو تر څنګه ښاغلی کانې یو ذوقمن شاعر دی. د پښتو د معاصر دوران د سرلارو استادو شاعرانو لکه: اکاډمیسین لایق، استاد شپون، عبدالباري جهاني او نورو د اثارو د مطالعې تر څنګه یې د ځوان نسل د مبتکرو او ښو شاعرانو د مجموعو او متفرقه شعرونو مطالعه هم کړې ده او د دغې مطالعې په مرسته یې خپل شعري ذوق ښه صیقل کړی دی. دی په خپلو ویناوو کې د شعریت غوښتنې پالي او د نوښت خواته هم هڅه کوي.

ما د ښاغلي کانې د شعرونو او نظمونو لومړنۍ مجموعه «تنکۍ پاڼې» وکتله. دی زیار باسي چې حتی زموږ پر هېواد د روان ناورین ځینې نادودې په خپلو پارکو کې په هنري ډول راونغاړي. په ځینو غزلو کې یې هم هنري خوځښت لیدل کیږي.

ما د دې مجموعې له ځینو غزلو او شعرونو او د ځینو هغو له بیتونو خاص خوند اخیستی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مثال په ډول د مجموعې د «زخمي کيږدۍ» او «اتڼ» په ټوټو کې شاعر د پښتنو د کلیوالي او کوچیاني ژوند دې دوو توکو ته د هېواد له دې او سنيو ناوړه پېښو سره په ارتباط کې په خپلو ويناوو کې ځای ورکړی دی. د دې دوو ټوټو ځينې ځانګړي بيتونه پياوړی شعريت لري. په ښو انځورونو پسولل شوي او تخيل يې هم ښه دی. د «زخمي کيږدۍ» نومي پارکي دا لاندې بيتونه زما خوښ دي:

د تصور په صحرا وينم سوي سوي بوټي

دا کوچۍ مېنه مې غمجنو شنو لوګو اخيستې

يتيمه کړيکه مې تر غوږ د ماشومانو شوله

د کيږدۍ سيمه بوږنوونکو انګازو اخيستې

چيرته په لاره کې څپلۍ د بريتورو وينم

د خيال سدرۍ يې له لونګۍ سره لمبو اخيستې

چاته به ګوري د کوچۍ پېغلې غمجنې سترګې

چې پېغله مينه يې اوس اوښکو ليونو اخيستې

د غم ګوليو زخمي کړي د کيږدۍ لاسونه

د ګودر غاړه ماتو شويو شنو منګو اخيستې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په پوه د ښاغلي کاڼي شعرونه د هنري تابه پر لور گامونه اخلي. دی په دې هڅه کې دی چې د شعريت ټول اساسات خپل کړي او نوښت ته په خپلو شعرونو کې پرورښت ورکړي.

زه هيله لرم چې ښاغلی کاڼی تل د نوښت تلوسه ولري، ښکلي او نوي انځورونه جوړ کړي، او تل دې د عالي تخيل د نيلي پر وزرو سپور وي.

دا بله هيله له دغسې شاعر نه لکه کاڼي کېدای شي چې دی ځان له تقليد نه وژغوري، دا ځکه چې تقليد هنرمند د ابتذال خواته راکاږي. هنري استعداد او ذوق يې وده نه کوي او له تلاښه نه يې منع کوي.

د ښاغلي کاڼي د هنري استعداد د لا غځونې او د تقليد نه د ځوان پښتو شعر د ژغورلو په هيله.

په درناوي

زلمی هېوادمل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سریزې په ځای

کاڼی د کمرو ومه تا پورته کړم

سترګو پښتنو ته دې کجل شومه

بهاند

ډېر وخت کېږي چې زما مخې ته د ښاغلي محمد طاهر کاڼي د شعرونو ناچاپه نسخه پرته ده. هغه ماته ښاغلي شاعر راسپارلې ده چې پر هغې څه ولیکم. په رښتیا سره هغه مې څو څو ځلي ولوستله، کله وایم چې راځه څه پرې ولیکه او کله زړه راته وایي چې ترې تېر شه. مګر د ښاغلي کاڼي پرله پسې پوښتنو، چې څنګه شوه؟ اړ شوم چې څه د نورو شاعرانو کتابونه او څه خپل یادښتونه وګورم او دا لاندې څو کرښې د ده په دې څه پخو او څه ناپخو شعرونو ولیکم. ما غوره وګڼله خپله لیکنه د ده د دې شعري جونګ په دې شعر راپیل کړم:

اخلمه په زړه کې د موسکا تصویر

سترګو د نازونو د ادا تصویر

پریوته نظر مې په پیٔ مخو کې

اخلم یې له سترګو د مینا تصویر

ګورمه ایینې ته د نظر د یار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکاري پکې زما د تمنا تصویر

کوم یو انځورګر باندې تصویر کړمه

ستا د سپینې غاړې او ملا تصویر

راشه پر سینه مې سینه کېږده لږ

جوړ به کړو د زړونو د درزا تصویر

نو کله چې یو څوک د زړونو درزا اورېدلی شي او هغو نه تصویر جوړوي، هغه څوک چې د ښکلو په سترګو کې د خپلې ورکې تمنا تصویر پیدا کولی شي، هغه څوک چې د ژوند په غم اباد کې فکرونه د ښکلي خیال په لور یاغي کوي، هغه څوک چې په دې غم اباد کې یوې موسکا نه د مینې کور جوړولی شي، هغه څوک چې د ستم اوږده لاسونه د هر چا له ګرېوانه لنډولی شي، هغه څوک چې د باغ له اوږو نه د سپینو واورو پر ځای سره ګلان رازرغونولی شي، هغه څوک چې وخت د تمباکو په شان د چلم یو کش او یو دود کوي چې د غم په زړه غم راشین کړي، او هغه څوک چې نورې ډېرې داسې له نوبت نه ډکې چارې کوي، لوستونکي د هغو په ښکلا حیرانوي، په تورو او کلمو کې د انساني روح د نازولو او پاللو لپاره نه انځورېدونکې شبېې راانځوروي او په نه تکرارېدونکي ډول هغه په کلمو کې رانغاړي، نو کولای شو هغه شاعر وګڼو. هغه مصور وګڼو او هغه انځورګر. نو زه هم ځان ته دا اجازه ورکوم، چې کانې صاحب په پښتو نننې ادبي بهیر کې په ډېر ځنډ او ښکلا سره یوه نوې پیل کېدونکې څېره وګڼم او حتی ځینې غزلې او نوي شعرونه یې پاخه شعرونه، چې د یوه پوره شاعر طبیعي زېږنده ښکاري. تر دې نه برسېره

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ده ددې شعري جونګ په لوستلو لوستونکي کولی شي ځينې داسې ترکيبونه او نوي ژبني جوړښتونه پيدا کړلی شي چې پخپله د شاعر کانې وي: د غم په زړه کې د غم شنه کول، د زړونو د درزا تصوير، روڼ تنکي نظر باندې ويشتل، د موسکا کور، په عقل کې د اغزو کرل، د ستم اوربده لاسونه، د باغ په اوږو لاسونه، د باروتو د بلا خپته، د تورو دپوالو غاښونه، د سکروټو لپه، په لمر د تورو شپو حلالول، د ځنګل ځنې، د شپېو حلالول او نور نور نوي ترکيبونه، چې د وخت نه تکرارېدونکې شېبې شاعر پکې مروړلې او ابدي کړې دي. ښه به دا وي چې دلته د شاعر هماغه غزله راغبرګه کړو چې د همدې يادو شويو ترکيبونو زياته برخه پکې لوستلی شو:

سا مو لوګی چې بند په بند تېروي

سينه سکروټو کې څه ژوند تېروي

زموږ د تورو دېوالو غاښونه

دا سره اورونه په څه خوند تېروي

وخت د باروتو د بلا خپتې ته

ډ کې منګولې په ښه شخوند تېروي

خپله په سرو وينو کې غرق تر ستوني

بل ته ټول عمر دوی په پند تېروي

ډ برين زړونه، ډ برينې سترګې

(c) ketabton.com: The Digital Library

توري لوخړې په اېلبند تېروي

څه سرې خورې د وخت ټوکې شولې

ژوندي سرونه لکه قند تېروي

د کاڼي لکه هغه شان چې يې تخلص طبېعت ته نږدې دی، شاعري يې هم لکه کوچيانی ژوند ، لکه دده د همڅېو ژوند طبېعت ته نږدې، همګامه او په هره غزله، شعر او نظم کې يې وينو چې د کوچاني ژوند نښې سر راپورته کوي، نو ځکه دده په شعر کې دغه لاندې توري او کلمات په تکرار سره ليدلی شو: غر، صحرا ، باد ، باران، وربځ، طبېعت، باغ، مليار ، ونه، چنار ، چمن، ګل، اغزي، غوټۍ، څانګه، لونګ، مينه، وږمه، شبنم، لوګی، سيند ، دره، لمر، ځنګل، للمه، سيلاب، کاروان، اس، کيږدۍ او نورې ډېرې داسې ژوند او طبېعت ته نږدې چې دا ټولې د هغه د ځانګړي ژوند انځور باسي. د ساري په توګه موږ کولی شو چې يوازې د خړ کلمه په بېلابېل ډول په لسګونو واره د ده په جونګ کې ولولو. ده دا کلمه په دې لاندې ډولونو سره استعمال کړې ده: خړ، خړه، خړې، د خړو خړو خلکو، خړو کورونو ، خړه مانۍ، خړه زنده ګي، خړې دښتې، خړې اوبه، د خړو غرونو ، خړ مزل، خړې لارې، چې دغه خړوالی نه يوازې دده توان د يوې کلمې په بېلابېل ډول استعمال کې ښيي، بلکې دا دده د ژوند ، د ده د ماشومتوب، د ده د تنکي زلميتوب او د ده د سرنوشت بيان دی چې په ځانګړې توګه دده د ځوانۍ د تجربو نه وروسته په شعر کې تصوير پيدا کوي، انځوريږي او بيان مومي. نو دلته هغه خبره حقيقت پيدا کوي چې د شاعر توان په دې کې دی چې دی له هغو تورو نه، چې نورو ته ساده او تش توري بريښي سره له ټول ساده والي يوه نوې ښکلايزه مانا پيدا کوي، هغو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوی احساس، عاطفه او نه بیانېدونکې ښکلا وربښي. البته زموږ شاعر هم په دې برخه کې هڅې کړې دي:

کبوتی کاروان

په اوږده لاره کې په شپو واوښتو
په بې سحره شوګیرو واوښتو
موږه سپاره وو د شپبو پر اوږو
مو دې شوې ختمې په کلو واوښتو
په څه بې لارو مزلونو سر شو
ګلونه سوي، په اغزو واوښتو
للمو شپبو ته مو باران غوښتلو
خو په سیلاب د وینو سرو واوښتو
موږه د بخت پر اس وو زین تړلی
لکه چې اس نه وو په خرو واوښتو
موږ له کاروان سره په لاره لوټ شو
په لویه لاره کې په غلو واوښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښاغلي کاڼي په دې مجموعه کې د غزل په ښه شعرونه ډېر لیده کیږي او شاعر په دې ډول شعر کې ځینې ځینې ځایونه ښه لاس هم لري. دی په غزل کې غواړي پخه تجربه وکړي، خو داسې ښکاري چې د خیال وزرونه یې کله کله د غزل په اوچت اسمان کې کمزوري کیږي، خو بیا هم د ښکلا تر څوکو ځان رسولی شي. نظمونه یې ماته داسې ښکاري چې غواړي د پخېدو خواته ولاړ شي. په ازاد شعر کې کله کله بې ساری تخلیق کوي:

ناجوړه لار

زموږ د ستړیو ستړیو هیلو

ارمانونو لارې،

سپېره تیږونه سرې سینې پورې

کتار تړلي

زموږ د زړه د لویو غرونو

د غرور غېږه کې یې

د مایوسۍ چاړه ټومبلې نېغه

اوس زموږ ستړې هیلې

گوره دعا کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسمان ته ګوري

ګونديې چې خداى يې کړي دعا قبوله.

ځلوريزې يې په مجموعه کې ګوته په شمار دي، خو ښايسته.

په وزن، قافيې، ادبي صنايعو او د شعر په موسيقۍ يې دلته څه نه وايم خو دومره ويلی شم چې قافيوي عيبونه پکې لږ تر لږه په هره غزله کې لکه ستم زمونږ په وطن کې سر راپورته کوي چې دا جلا بحث غواړي او جلا خبرې.

د خپلې ځوانۍ فصل کې د مينې کرښې وينم

يو بشپړ پسرلی مې له ګلونو څخه ډک دی

د ستمګرو په ککره د کاڼي د لګېدو په هيله

لطيف بهاند-مسکو

د ۲۰۰۰ ز کال د اګست لومړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کتابتون

د فکر لوی کتاب مې له رازونو څخه ډک دی

د ستړي ژوند له لویو کاروانونو څخه ډک دی

په هره یوه پاڼه یې تصویر دی د یادونو

د خړو خړو خلکو له مخونو څخه ډک دی

راغلې پکې ډېرې دي کیسې د حسرتونو

د سویو اسویلو له حسرتونو څخه ډک دی

د لویو اوږدو لارو یوه لویه منظره ده

کیږدۍ سره یو ځای خړو کورونو څخه ډک دی

د خپلې ځوانۍ فصل کې د مینې کرښې وینم

یو بشپړ پسرلی مې له ګلونو څخه ډک دی

د فکر د کتاب پاڼې چې اړوم پوهېږم

یو کور د تصور مې کتابونو څخه ډک دی

اوکراین-لووف

۱۹۸۷ز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماتې نغمې

ځي مې اسويلي په غمخانو پسې

بيا په غم ځپلو قدمو پسې

لار کې د غيرت چې خيري شوي دي

ګرزي اوس په هغو ګرېوانو پسې

چيرته د زخمي ژوندون پر لار درومي

ويني څڅېدلې منزلو پسې

لاره کې مو پينې د منزل ماتې کړې

سترې مزلونه شوه سپېدو پسې

نن د نيمې شپې د رباب غږ نشته

ماتې نغمې نه ځي په پردو پسې

اوکراين-لووف

۱۹۸۷ز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خږه ماښۍ

زموږه په وطن کې چې د نورو حسابې ده

زموږ په غمګینۍ کې يې خوشاله خوشالي ده

زموږه د غیرت شمله باروتو توره کړې

اشنا په دې غیرت کې عجیبه غوندې ځواني ده

په ډاګه راته وایه، دا نو څه مانا لري اوس

چې ژوند مو سر تر پایه د پردیو قرباني ده

ماښام شي او سحر شي، ژوند هماغسې روان دی

په ښار او په کوڅه کې مو څه خږه زندګي ده

پښې لوځې، ببرسري مو د غم پر لاره درومي

د کونډې زمانې مو له ګرېوان سره ياري ده

زموږه خږو دښتو ته مجنونه راژوندی شه

نن دلته د لیلا خږه ماښۍ کې تباهي ده

اوکراین-لووف

د ۱۹۸۸ ز کال فبروري

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

د حسن په محفل کې اداګانې نخښېدلې

ادا سره نازونه، موسکاګانې نخښېدلې

د ښکلو وې نخاوې، د سرو سترګو سترګکونه

نشه کې د مستانو حیاګانې نخښېدلې

شېبه وه د رندانو او د وير دنيا وه ړنګه

په منځ کې د جامونو میناګانې نخښېدلې

اغېز د عاشقۍ نه وو، پر زړه مې غم راخور وو

زما د زړګي غم ته خنداګانې نخښېدلې

زه ورغلمه کانې ته ترې ومې کړه پوښتنه

په زړه کې يې ترا وسه سوداګانې نخښېدلې

اوکراین-لووف

د ۱۹۸۸ ز کال مارچ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مین پسرلی

شین پسرلی دی په راتللو مین

زړګی زما دی په سرو ګلو مین

مینې وربخې طبیعت ته ژاړي

باران د غره په ښکلولو مین

ګل د غوټۍ په زړه کې رنګ وروي

دی د شبنم په نازولو مین

ستوري د شپې له خوبه خوند اخلي

سحر د لمر په راختلو مین

د مازدیګر په طلایي نظر کې

زلمی چنار شو په شنو ولو مین

سیند د درو سینه کې ګوتې وهي

لکه ماشوم وي په رودلو مین

لکه شاباز د ربابي ګوتو کې

قلم زما شو په غزلو مین

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوکراین-لووف

د ۱۹۸۸ز کال اپرېل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلار ته

تا اېښې د عمر پر اوږو قدم

ځکه ږدې پر لاره په ورو ورو قدم

ستا د لاس لرګی زه بختور ګڼم

ستا سره په څنګ ږدي په کلو قدم

ستا د ځوانۍ وخت مې تل په یاد راځي

تل دې اېښوده پر لارو ښو قدم

ته چې برېتور او شمله داره وې

هر قدم دې وو د پښتنو قدم

تېره دې ځوانۍ شوه، اوس سپين ږیری شوې

نه ږدې ستا رباب اوس په نغمو قدم

ستا عمر دې ډېر وي، تل ژوندی اوسې

لاس کې ښکلوه دې د تسپو قدم

اوکراین-لووف

د ۱۹۸۸ ز کال مارچ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خوماري شپې

د زلمیتوب خوماري شپې ټولوم

له مستې مینې نه نشې ټولوم

شوې بې حسابه د دې ځای معشوقې

ټولې د زړه خواته نږدې ټولوم

گوره نظر چې یې په ما لگي تل

خود به یې سترگو نه پیالې ټولوم

ما د بیلتون کلي ته واچاوه اور

وصله له پښو دې زولنې ټولوم

سبا سحر ته ښه راغلا ست وایمه

د رڼا کور نه شوگیرې ټولوم

شیخه پر تا دې بده ونه لگي

زه له پیۍ مخو نه بوسې ټولوم

اوکراین-لووف

د ۱۹۸۸ ز کال مارچ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یاغیتوب

موږه د ژوند د کلي ور ماتوو

په خپله مېنه کې ټټر ماتوو

د خپل شکېدلي، څیري څیري ګرېوان

تنۍ د اوښکو په نظر ماتوو

موږه د باغ د ترږو ترږو ونو

تنده د وینو په تبر ماتوو

پخپله پوه نه یو چې څه کوو موږ

تیږه په لاس کې او خپل سر ماتوو

موږه سرکښه د پېړۍ لیونیان

د وخت په خېټه کې خنجر ماتوو

اوکراین-لووف

د ۱۹۸۸ ز کال اپرېل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

نن دې بیا محبوبې د وختونو غېبږه خلاصه کړه

ستا د حسن بڼ د بهارونو غېږه خلاصه کړه

ماتې دې شپېې کړې په راتګ د انتظار زړه کې

تا چې زما د ځوانو امیدونو غېږه خلاصه کړه

جوړې دې غوټۍ کړې د ښایست د اننګو د باغ

نن دې هر قدم کې د ګلونو غېږه خلاصه کړه

پیغله مسته خوله دې رانږدې کړله چې کېناستې

شونډو کې موږ دواړو د رنګونو غېږه خلاصه کړه

ستا د شا تنۍ مې د خومار په ګوتو پرانیستې

سپینه دې د مستو هوسونو غېږه خلاصه کړه

لاس چې مې نن ستا د سرې سینې په خوله وښویید

کاڼي ته دې بیا د پالنګونو غېږه خلاصه کړه

اوکراین-لووف

د ۱۹۸۸ ز کال اپرېل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مات جام

د وخت د تورو وربځو دې مجال ته ګوته نيسم

چې کاڼي ووروي په بل دې سوال ته ګوته نيسم

يو څو سپيره ډاګونه يې په مورڼه دي لورولي

راغلى دى اوس وخت څکه دې حال ته ګوته نيسم

په مخ کې د هر چا چې مداري غوندې څرخيږي

اخر به شي رسوا چې زه دې فال ته ګوته نيسم

د خړو اوبو ګوټ چې په مات جام کې راته نيسي

دا څکه هم ساقي او هم کلال ته ګوته نيسم

اوکراين-لووف

د ۱۹۸۸ز کال اپريل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پولادي سینه

پر دې سینه باندې انځور دي د هر یون ګامونه

د سکندر او د چنګېز د هر شبخون ګامونه

کور د زمریانو کې ګیدړ ته څه حاجت نشته دی

لاره کې وینم نابلده نامیمون ګامونه

چې د تنکیو هیلو زړونه یې ذرې ذرې کړه

اخر به مات شي نیمه لار کې د جنون ګامونه

دا لیونی د زمانې طبیب ته وروليږ لږ

په هر قدم کې ورانوي چې د روغتون ګامونه

د تور لحد لاره به ونیسي، تورمخی به شي

زموږ په کور کې ماتوي چې د ژوندون ګامونه

چې مې وطن کې بریتور او شمله ور اوسیږي

چلیدی نه شي د نااهلو د قانون ګامونه

اوکراین-لووف

د ۱۹۸۸ ز کال می

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کوځې

پته ده ورکه د اختر د کوڅو

بېگانه ښکارو په نظر د کوڅو

د سرو نکریزو چېرته پته نشته

یوازې وینو سور ځیگر د کوڅو

خوښي زموږ له کوره کډه وکړه

دروازې خلاصې سراسر د کوڅو

دلته بریتونه په سرو وینو رنگ دي

نن ټپي شوی شمله ور د کوڅو

پر سپینه ورځ یې زموږ کش کړه ما شه

څومره سپین سترگی شو خطر د کوڅو

اوکراین-لووف

د ۱۹۸۸ ز کال اکتوبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ټګمار

وران مو د وطن کلی او ښار ګڼه

جوړ راته راغلی یو ټګمار ګڼه

زما د کور لمبو ته چې پکی وهي

دا واړه لاسونه د اغیار ګڼه

خپټه یې زما پر اوږ ا ایښې ده

توره اشتها د سره ښامار ګڼه

چا ورسره خوله د جوال ونیوه؟

زما د هیلو غله سره یې یار ګڼه

زما د کلي زړه کې چې چړې وهي

دا د دې خوني شوروي کار ګڼه

اوکراین-لووف

د ۱۹۸۸ ز کال اکتوبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوښکې

څنګه ژړ راغی بې وخت زمان د اوښکو

چیرته ولټوو موږ درمان د اوښکو

د انسان د ژوند فضا شوه تکه توره

شو راښکته ناڅاپي باران د اوښکو

چې پر زړونو به نغمې د پسرلي وې

اوس یې ځای ونیو ظالم خزان د اوښکو

په هر ځای کې کوکې جګې شوې له غمه

په وحشت کې دی ولس حیران د اوښکو

لور تر لوره د جګړو اورونه بل شوه

شو په سترګو کې مشکل ګوزران د اوښکو

د یتیم په برخه نه شو نور څه پاتې

په نمجنه لاره شو روان د اوښکو

خونړۍ شوله د ژوند حسرتي سیمه

پکې درومي تل مدام کاروان د اوښکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما که خیري خپل ګریوان له ډېره غمه

شو مې اوښکو ته خالي میدان د اوښکو

اوکراین-لووف

د ۱۹۸۸ ز کال ډیسمبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

واوره زما د امیدو غزله

د زړه د زنګ د ورکېدو غزله

پکې رنګین غوندې اهونه شته دي

هم د رنګینو اسویلو غزله

چې لکه ناوې ښکلې کړې مې ده

د ښکلو سترګو ، اننګو غزله

چې پلوشې پکې د حسن برېښي

د تورو زلفو د وربمو غزله

پکې غربیږي بت پرسته مینه

د ځوانې مینې د وختو غزله

اوکراین-لووف

د ۱۹۸۸ ز کال ډیسمبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

چې هر نظر دې له لمبو جوړوې

سینه کې اور مې د اسرو جوړوې

څه ساحري دې په موسکا کې پټه

چې پسرلی پر اننگو جوړې

چاته بانه چاته چړې د زړونو

عجب نوښت دې پر لېمو جوړوې

کاڼي ته ورکړه د خپل حسن کتاب

پکې غزلې د پښتو جوړوي

اوکراین-لووف

د ۱۹۸۹ ز کال مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بلاربه عقیده

زموږ د کور په منځ کې یوه شپه وه لنګېده

پردۍ غوندې بې وخته مېلمنه وه لنګېده

زموږ د حالت سترګې وې بې ځایه غولېدلې

تګماره د بل کلي نه جوپه وه لنګېده

یو چا ورته بې ځایه، بې موجبه خوشالي کړه

په اصل کې د خلکو اندېښنه وه لنګېده

یو څو د پردي عقل لیوني ورنه پیدا شول

د شپږو میاشتو بلاربه عقیده وه لنګېده

زموږه د ختیځ د ګړۍ بند نه وو شکېدلی

بې وخته د شمال یوه بانه وه لنګېده

د ژوند په برخلیک یې تل د بل چړچې کولې

خونخواره چې راغلې یوه موده وه لنګېده

د ظلم او ستم یوه بلا وه امیدواره

په خوا کې د هر چا چې به پرته وه لنګېده

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل

د ۱۹۸۹ ز کال اګست

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مرور سباوون

پر وړکه لار زموږ سحر تللی دی

ښکاري له موږه مرور تللی دی

د خړو غرونو ، خړ مزل وهي نن

ستړی ستو مانه پر سفر تللی دی

د پلوشو د امیدو له کوره

د ارمانو پر لاره لمر تللی دی

د تورو شپو وربانديې کاڼي ووري

له توره بخته مقرر تللی دی

ژاړي د پرخو د ښکلا معشوقه

چې له ګلپاڼو بې خبر تللی دی

زموږ د کلي سپین سحر سباوون

توريې بلا که په نظر تللی دی

کابل

د ۱۹۸۹ ز کال اګست

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتڼ

راته کړې مې يو دوست يوه کيسه وه
د بره ښکلې، په زړه پورې او خوږه وه

کتواز کې يوه ورځ د چا واده وو
جوش خروش د اتڼچيانو پکې ښه وو

ټوله ورځ يې په اتڼ وه ستړي نه شول
لا يې مسته شوله مينه پکې سره شول

تر ماښامه يې وهل دوه درې ډولونه
هم ډولچيانو له مستۍ وهل ټوپونه

شپه تياره شوه، نور نو چا څه نه ليدلو
پر هر لورې چې به چا کله کتلو

نو يو کس د اتڼچيانو له جملې نه
لږ جلا شو د اتڼ لويې حلقې نه

او ورولويده کاريز ته نابره
د اتڼ له شوقه مست وو له سحره

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې پوه شو چې پښه يې شوله ماته

غږ يې وکړ، مخ يې واړولو شاته

چې اتڼ ونه دروئ، زه روغ رمټ يم

ژوبل نه يم چې لويدلی زه په خټ يم

خو اتڼ ته ادامه ورکړئ يارانو

پر ما زړه مه خوږوئ اې عزيزانو

***

ځومره ښکلې د اتڼ لړو سندرې

په زړه پورې هم خوږې لکه شکرې

په اتڼ چې به ځوانان سره حلقه شول

په ورو ورو به د اواز په زمزمه شول

بيا بې جګې کړلې غاړې په بدلو

قدم شاته، قدم مخکې به يې وهلو

د ډولچيانو به په خپل منځ کې سيالي وه

يو د بل ترمنځ به جوړه څه مستي وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتڼچیان به په مستۍ شول په اتڼ کې

خاورې دوړې به شوې پورته په اتڼ کې

پاس د بام پر سر به پېغلو تماشا کړه

یو د بل سره بې پټه مشغولا کړه

غوښو ، وریجو نه به ډک وو لوی دیګونه

د ښوروااوو خوندور وو بړاسونه

په کلا کې به کړل پیغلو اتڼونه

یو تر بل به ښکلې وې لکه ګلونه

څوک به شپه کې پر اسو باندې سپاره وو

څوک به پلې د واده په لور په تله وو

د توپکو به ډزونه شوه هوا کې

د خوښۍ نغمه به پورته شوه فضا کې

یا به چا خپل زوی ته کړې ښه کوزده وه

یا به زوکړه د پښتون د کور نغمه وه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ تاریخ د غزاگانو تل شاهد وو

چې ولس مو د پردو وړاندې واحد وو

چې یرغل به په موږ پیل شو د پردیو

نو خبر به شو ولس په دې غدیو

بیا به ډول او نغاره د غزا پیل وو

د پردیو به د تېښتې یو لوی سیل وو

اوکراین-لووف

د ۱۹۸۹ز کال سیپتمبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوکراینې پېغلې ته

چېرته روانه یې د ناز ښاپیرۍ

په څه نغمه کې یې د ساز ښاپیرۍ

د اوکراین د شنو باغو کوترې

وهي غومبر د چا پر زړو کوترې

بیا دې له چا سره وعده ایښې ده؟

د چا پر زړه دې غلبله ایښې ده؟

دا بختور نصیب د چا دی ښکلې؟

چې لیونی ستا د وفا دی ښکلې

بیا به یې غېږ شي پر تا ډکه نجلۍ

لاس به یې تا کړې غېږ کې کلکه نجلۍ

بیا به دې شونډو نه بوسې اخلي

ستا له دوه سترګو به نشې اخلي

له سپینې خولې نه به دې غږ نه وزي

مستې سینې نه به دې څوږ نه وزي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا به شبنې د ځوانۍ مستې کړې لړ

بیا به نشې د ځوانۍ مستې کړې لړ

ته به د مینې جال کې بنده ښکارې

ښکلې به مینه کې څو چنده ښکارې

سترګې به پټې کړې په مینه مینه

امیل به رنګ وي ستا پر سپینه سینه

بیا به د ونو لاندې سره غونچه شې

د بڼ په منځ کې به مېله مېله شې

ستا په موسکا به څه ښکلا سپره وي

ستا خوشبویي به په هوا سپره وي

ته چې د پېغلو منځ کې میره ښکارې

د چا په زړه کې ته اسیره ښکارې؟

ستا به د مینې پر سبا وي نظر

د لمر د وړانګو به پر تا وي نظر

په رنګینیو کې به نور جوړوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم انځورگر ته به انځور جوړوي

اوکراین-لووف

د ۱۹۸۹ز کال سیپتمبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ورکه خندا

زموږ مالت کې شوله ورکه خندا

څنگه یو ځل شوه بې درکه خندا

موږه موسکا غوښته له لویه ربه

په مخه راغله د غم کلکه خندا

ږلۍ د اوښکو پرې برې وموندې

ولوېده خاورو کې پر ځمکه خندا

زموږ د ښکلو ښکلو پیغلو په خوله

وینو کې سره شوله نازکه خندا

نه یې توبه نه یې ثواب قبول شو

پردې اختر مو کړله سپکه خندا

زموږ پر وطن یې سرې لمبې بلې کړې

شوله ایره په اور کې ځکه خندا

د ټانک په زور دې ملکي ونه شوه

اوس دې په کور کوه ملکه خندا

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوکراین-لووف

د ۱۹۸۹ز کال اکتوبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خوشال مېنه

وطن زموږه د اقبال مېنه ده

د مستقبل او هم د حال مېنه ده

ماتې ختيځ او لويديځ دواړه يو دي

که د جنوب که د شمال مېنه ده

زه يې د سيند لاسونه زړه ته راوړم

د غرونو سر مې د جمال مېنه ده

که کندهار او که کندوز دی که خوست

جلال اباد مې د جلال مېنه ده

که پکتيکا ده، که مزار که هرات

زما د هر يو هېوادوال مېنه ده

زما دوه سترگې دي پغمان او کابل

که د رحمان که د خوشال مېنه ده

کابل-خوشال مېنه

د ۱۹۹۱ ز کال فبروري

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساقي ته

مست مې کړه ساقي چې ليونی شمه

دې خپلې ځوانۍ نه سپېلنی شمه

څه وکړم وختونه د نشې دي نن

لړ به زه بېخوده صحرانی شمه

څه بې کړم دنيا کې چې هر څه دي ډېر

کله شته خندا چې زه موسکی شمه

اوس مې ستا د خوم پته پيدا کړله

ډک مې کړه جامونه درلوګی شمه

کابل-خوشال مېنه

د ۱۹۹۱ زکال فبروري

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

د شوخو سترګو په خومار مې وله

د خوماري نظر په کار مې وله

چې په ښکلا دې تول موسم غوړېږي

حسن ته وايه په بهار مې وله

چې مخامخ شې راته مه مې پوښته

سم بې پروا او بې اختيار مې وله

د ناز توپک چې دې ويشتل زده کړي

جوړه ښکاري شه لکه ښکار مې وله

سترګو ته څه وايې د مخ ائينه کې

ائينه دې زه يم هر سهار مې وله

را شه زما په غېږ کې سره لمبه شه

د سورکو شونډو په انګار مې وله

اوکراين-لووف

د ۱۹۹۱ ز کال مارچ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شبنمي الهام

مینې نظر د پسرلي راکوه

ځواني ده لږه خوشالي راکوه

زلمی قسمت مې په غمونو سر شو

ته راته خانده او مستي راکوه

چیرته مې بوزه د چمن پر لاره

تازه وختونه ګلابي راکوه

د زړه مارغه مې پکې والوته نن

شور د بلبلو شاهیني راکوه

وایم سندرې تل د باغ پیغلې ته

باغوانه زوم دې یم ښادي راکوه

اوکراین-لووف

د ۱۹۹۱ ز کال مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زخمي کيږدۍ

د خيال کيږدۍ مې څه نامردو توپانو اخيستې

چې لوړو غرو د چا له لاسه پر اوږو اخيستې

په خړو لارو او درو کې زخمي اوښ لټوم

د وطن دښتې مې نن ورکو کاروانو اخيستې

د تصور پر صحرا وينم سوي سوي بوټي

دا کوچۍ مېنه مې غمجنو شنو لوګو اخيستې

يتيمه کړيکه مې تر غوږ د ماشومانو شوله

د کيږدۍ سيمه بوږنوونکو انګازو اخيستې

چيرته په لاره کې ځپلۍ د بريتورو وينم

د خيال سدرۍ يې له لونګۍ سره لمبو اخيستې

چيرته به پروت وي د کيږديو باغروره خاوند

مسته رمه يې چې د جنګ تورو ماينو اخيستې

ښکلې شپېلۍ يې د هنر شونډو ته تږې ښکاري

د ژوند نغمه يې څه دردمنو فريادو اخيستې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاته به گوري د کوچۍ پيغلې غمجنې سترګې

چې پيغله مينه يې اوس اوښکو ليونو اخيستې

د غم ګوليو زخمي کړې د کيږدۍ لاسونه

د ګودر غاړه ماتو شويو شنو منګو اخيستې

اوکراين-لووف

د ۱۹۹۱ز کال اګست

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ښکلې ستا مینه مېله را سره درومي

ورته ګوره ځنګه ښه را سره درومي

لکه سیوری تل پر ځنګ را سره ګرځه

په وجود مې سره لمبه را سره درومي

چې پر شونډو دې زما خومار ویده شو

ساقي څه چې میکده را سره درومي

زه شهباز یم ستا د زلفو د تارونو

د نغمو دې ترانه را سره درومي

پیغلتوب دې رانږدې کړه چې لږ پوه شم

د ځوانۍ مسته نشه را سره درومي

زه به ځان ګڼم حاجي ستا په الفت کې

چې دا ستا د مخ کعبه را سره درومي

اوکراین-لووف

د ۱۹۹۱ ز کال اګست

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

پرخه د صحرا پر سینه پرېوته

سترګه د سبا پر سینه پرېوته

راغله تازه ګي له خوشبويي سره

مسته د هوا پر سینه پرېوته

زما د سترګو اوښکې دي ګلپاڼو کې

نن مې څه غوغا پر سینه پرېوته

شونډې مې د یار د ګلو پاڼې دي

نن چې يې موسکا پر سینه پرېوته

نم په اننګو کې له سورخي سره

مینه د ښکلا پر سینه پرېوته

سترګې دي پیالې د سرو شرابو دي

تنده د مینا پر سینه پرېوته

ستا د نظر اور کې مې ستي سینه

ښه شوله چې ستا پر سینه پرېوته

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوکراین-لووف

د ۱۹۹۱ز کال اګست

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بربنډ انځور

پرته پر يوه اړخ يوه نجلۍ وه په انځور کې

له پښو نه تر ولو له لوڅه تر غړې وه په انځور کې

سينې يې په يو رنګ لکه غبرګونې پيغلې خوينډې

د سترګو تماشا يې ګرځندې وه په انځور کې

يو لاس يې پر ورانه بل يې تر سر لاندې نيولی

پرته په پاسته کټ په بې غمۍ وه په انځور کې

د لمر د طلايي وړانګو نظر ورته نږدې وو

پردې په يوه خوا ، خلاصه کړکۍ وه په انځور کې

په حسن برابره وه سمبال ، وه غونډه مونډه

ترې لاندې ښايسته غوندۍ شړۍ وه په انځور کې

د تېرو زمانو ښايسته ميز يې وو تر څنګه

له پاسه پرې ولاړه ګلدانۍ وه په انځور کې

نقاش د زمانې ته څه په مينه موسکېدله

عجبه ښايسته يوه ښاپيرۍ وه په انځور کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوکراین-لووف

د ۱۹۹۱ ز کال سیپتمبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اروپا ماشوم ته

ستا هوسونه درد و غم نه لري

ژوند دې اختر لري، ماتم نه لري

ته د نیکمرغه ژوند په غېږ کې اوسې

وطن دې زور، ظلم و ستم نه لري

ته د موسکا په کور کې ژوند کوې تل

اوښکې دې ستر گو ته قدم نه لري

سره دې غمبوري، سپین دې مخ وینمه

گرېوان دې وچ د اوښکو نم نه لري

زموږ ماشوم دی له هر څه بې برخې

غم لري ډېر، کور کې غنم نه لري

پلار یې ټانکونو دی ویشتلی چیرته

مور یې د زړه زخم ته دم نه لري

زموږ له ماشومه خو ته نه یې خبر

د ژوند ټپونه یې ملهم نه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوکراین-لووف

د ۱۹۹۱ ز کال سیپټمبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

یو ځلي مخ ته ائینه ونیسه

پکې د زلفو سلسله ونیسه

پر ښکلي مخ زلفې خورې ورې که

د حسن ورځو ته دې شپه ونیسه

د تورو سترګو شهیدان دې ډېر دي

لږ خو پر خوله باندې توبه ونیسه

زما دې سوې لیونۍ سینې ته

راځه یو ځل مسته سینه ونیسه

چې دې په غېږه کې نشه پربوته

شونډې یې کاږه اهسته ونیسه

اوکراین-لووف

د ۱۹۹۱ ز کال سیپټمبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ویلون

دا کوچنی یار مې څه ښه ساز غږوي

د هر موسم د زړه اواز غږوي

کله ورېمې د پسرلي غږوي

کله د مینې یو نیاز غږوي

کله د واورو غرونه وتخنوي

کله رنګین غوندې انداز غږوي

په هر یو تار کې یې نغمې دي پټې

د زړه په کور کې مې یو راز غږوي

کله رایادې کړي نغمې د شپېلۍ

د زړه رباب مې په شهباز غږوي

کله ژړېږي د یو چا په ماتم

کله خوښۍ ته یو اغاز غږوي

کله شاعر، کله شي پېغله مینه

په نرمو شونډو کې یو ناز غږوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوکراین-لووف

د ۱۹۹۱ زکال اکتوبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لوخ موسم

د مني اراده ده چې ځنګلونه لوڅوي

ښاخونه د ګلونو او باغونه لوڅوي

ها بله ورځ بهار ورته ګنډلې شنې جامې وې

خو نن د ښکلیو ونو مړوندونه لوڅوي

چنار وو که شاتوت، د ټولو شنې پګړې پر سر وې

د زېړې لونګۍ یار یې اوس سرونه لوڅوي

د وخت نوي حالات یې اوس سړو شپو ته راباسي

موسم په خپلو لاسو ځمکه غرونه لوڅوي

دې ژوند کې پر هر چا باندې سړې تودې تیرېږي

قانون د طبیعت څه پټ رازونه لوڅوي

اوکرین-لووف

د ۱۹۹۱ ز کال اکتوبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

لیلا په سپینه خوله کې دې نشې راوېښوم

زما د زړه ساقي ته میکدې راوېښوم

چې ستا د ثوابي زلفو تسپې په لاس کې واخلم

زاهد شمه په زړه کې مې کعبې راوېښوم

زلمي زلمي اهونه مې ستا حسن ته راوړي

د شونډو په دېره کې دې بوسې راوېښوم

د مینې حماسه ده سرې سینې پکې جنګیږي

پالنګ د محبت کې دې خولې راوېښوم

د مینې شوګیرونه دې د کاڼي په قسمت شو

د عمر ورځې څه چې ټولې شپې راوېښوم

اوکراین-لووف

د ۱۹۹۱ ز کال اکتوبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د جام کور

ساقي دې راته ګوري موږ جامونه جنګوو

خومار کې د ځوانۍ یو څه وختونه جنګوو

د ژوند په غم اباد کې مو فکرونه یاغي شوي

یو وار خو به له خوم سره سرونه جنګوو

ملا دې په خلوت کې په نفلونو چاره وکړي

دا موږ بې د ګنا په نوم خومونه جنګوو

باغوان چې د انګور لویه تحفه ده رالېږلې

دا ځکه یې له تاکه سره زړونه جنګوو

ازل مو په قسمت کې د ژوندون غمونه نغښتي

موسکا نه ترهیدلي قسمتونه جنګوو

قاضي د زمانې رانه نور څه ضمانت غواړي

مستۍ او په خومار کې خپل یادونه جنګوو

اوکراین-لووف

د ۱۹۹۱ ز کال نوامبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شکېدلې څپلۍ

څو به ګنډو خپلې شکېدلې څپلۍ
د ژوند په لار کې سولېدلې څپلۍ

موږ د منزل پر زړه لاره درومو
پر سر مو تل خپلې نیولې څپلۍ

خلک هوښیار دي، اتفاق لري تل
موږ له خپلو نه ایستلې څپلۍ

موږ په عقل کې اغزي کرلي
له خپلو پښو مو غورځولې څپلۍ

ولې شمله دومره راټیټه شوله
چې په لمن مو دي موښلې څپلۍ

نورو ته لنډه موږ ته لري شوه لار
دې قافلې مو تل خوړلې څپلۍ

اشنا سبا به د رڼا کور ته ځو
یو ځل پښو کړه نازولې څپلۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوکراین-لووف

د ۱۹۹۱ز کال نوامبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# واورین لاسونه

واورې د باغ پر اوږو ایښي دي ساړه لاسونه

په تشو څانګو کې لوېدلي دي سپاره لاسونه

د واورې سپین څادر پر سر په درانه خوب ویده دي

کنګل رانغښتي دي رانېه، درانه درانه لاسونه

وخت د موسم په سپینه خوله سپینې خبرې کوي

ونو تر زنې ورته ایښي دي کاږه لاسونه

شمال د څانګو په رګو کې څه نغمې غږوي

د ژوند رباب ته ښوروي خواره واره لاسونه

بیا به سپرلی شي او د باغ غوټۍ به پېغله شي بیا

له ښکلې ملا نه به یې تاو کمه د زړه لاسونه

اوکراین-لووف

د ۱۹۹۱ ز کال نوامبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

دا ساړه ساړه بادونه به چلیږي لا تر څو

د بهار تنکي ګلونه به رژیږي لا تر څو

د تودو لمرو په هیله، تاندې لښتې د دې بڼ

دا له یخه چمنونه به وچیږي لا تر څو

د یوه ارمان لپاره، د سبا سحر په تمه

دا زموږه شوګیرونه به اوږدیږي لا تر څو

نه اسمان شو په کراره، او نه ځمکه په ارام

دا د کاڼو بارانونه به وریږي لا تر څو

د ستم اوږده لاسونه د هر چا ګرېوان ته رسي

دلته څیري ګرېوانونه به څیریږي لا تر څو

د اسمان زړه غریو نیولی، تندرونه راګوزار دي

د سرو وینو سیلابونه به بهیږي لا تر څو

اوکراین-لووف

د ۱۹۹۱ ز کال ډیسمبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ږدمه پرهرونه د ستم په زړه

شنه به کړم غمونه ټول د غم په زړه

وخت که تمباکو په شاني دود کړلو

کاښي به يې وار کړم د چلم په زړه

سر مو د قسمت خوله کې نيولی دی

خط خو دی کش شوی د غنم په زړه

لاره د ژوندن دار ته راکاږي تل

مېخ يې ټک وهلی د قدم په زړه

څوک چې دي د سرو وينو په جام مين

لاس يې تل نيولی د ماتم په زړه

وګوره، د ژوند ښکلا ته وګوره

وشينده ګلونه د عالم په زړه

اوکراين-لووف

د ۱۹۹۱ ز کال ډيسمبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تصویر

اخلمه په زړه کې د موسکا تصویر

سترگو ، د نازونو او ادا تصویر

پربوته نظر مې په پیۍ مخو کې

اخلم یې له سترگو د مینا تصویر

گورمه ائینې ته د نظر د یار

ښکاري پکې زما د تمنا تصویر

کوم یو انځورگر باندې تصویر کړمه

ستا د سپینې غاړې او ملا تصویر

راشه پر سینه مې سینه کېږده لږ

جوړ به کړو د زړونو د درزا تصویر

اوکراین-لووف

د ۱۹۹۲ ز کال جنوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ښکلیه څه موده را سره تېره کړه

ځې به، یوه شپېبه را سره تېره کړه

غم او وصل دوړاه په یوه شپه کې

راشه دا جوړه را سره تېره کړه

را به شي سبا بیا په سبا پسې

نن شپه په سینه را سره تېره کړه

څه مې په راڼه تنکي نظر ولي

دا د وصل شپه را سره تېره کړه

اوکراین-لووف

د ۱۹۹۲ ز کال جنوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سره زرغونه

بیا راورېږي څه تازه د بهارونو باران

ځمکې پر سر دي بیا نڅېږي د ځنګلونو باران

دا ویده پېغله خو نن بیا لکه چې ویښه شوله

چې یې مین پرې اوروي د سرو ګلونو باران

اسمانه بیا دې ملا تړلې ده په سره زرغونه

پر خپله ناوې غوړوې د شنو شالونو باران

بیا د سحر له سترګو پاڅېده ویښ شوی نظر

پر زړه د ګلو اوروي د شبنمونو باران

بیا به د لمر زرینې شونډې ښکلوي ګلونه

زړه به مې ورو ورو تخنوي د امیدونو باران

اوکراین-لووف

د ۱۹۹۲ ز کال اپرېل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لمرگلی

څه ښکلی تخم یې د ځمکې پر ځیگر کرلی

لمره، خو تاته یې یو گل دی د نظر کرلی

څو مره مین دی دا د وړانگو د ښکلا خریدار

چې له بېلتونه یې تور داغ د زړه پر سر کرلی

دا خو به زور د محبت وي چې کړېږي پسې

زېړه څېره کې چې یې رنگ د ماذدیگر کرلی

چې له سحره تر ماښامه یې دیدن کوي تل

ژوند یې تر پایه په رگو کې څه اثر کرلی

هیڅ یې د مینې سجده سپوږمۍ ته ونه کړله

لمرگلي زړه باندې تصویر د ښکلي لمر کرلی

اوکراین-لووف

د ۱۹۹۲ ز کال جولای

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کېوتی کاروان

په اوږده لاره کې په شپو واوښتو

په بې سحره شوګیرو واوښتو

موږه سپاره وو د شپېو پر اوږو

مودې شوې ختمې په کلو واوښتو

په څه بې لاره منزلونو سر شو

ګلونه سوي په اغزو واوښتو

للمو شپېو ته مو باران غوښتلو

خو په سیلاب د وینو سرو واوښتو

موږه د بخت پر اس وو زین تړلی

لکه چې اس نه وو په خرو واوښتو

موږ له کاروان سره پر لاره لوټ شو

په لویه لاره کې په غلو واوښتو

اوکراین-لووف

د ۱۹۹۲ ز کال جولای

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سرونه

سرونه نه دي پرې کوي چې د عزت سرونه

د وینو تږي وي همېش د جهالت سرونه

لاره مو نه ده غځېدلې د سحر په لوري

په اوږو بار دي د نااهلو د غفلت سرونه

داسې کوپړۍ خو په ځنګله کې هم بې شماره وینم

د انسانانو منځ کې جګ دي د وحشت سرونه

کاشکي دغه ماغزه خو خدای پرې لورولي نه وای

په هر قدم کې دي ولاړ د جنایت سرونه

یا خو مې سترګې شه ړندې چې چیرته نه وینمه

چې سرو لمبو ته غورځوي د انسانیت سرونه

وږی ښامار د زمانې لکه چې نه مړیږي

چې هره ورځ خولې ته راکاږي په نوبت سرونه

زخمي وطن خو دې لږ ما په دې خبره کړي پوه

چیرته ورک شوي د وختونو د غیرت سرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوکراین-لووف

د ۱۹۹۲ز کال اگست

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ځنګ کې د لیلا یم په چمن ولاړ

زړه مې دی د زلفو په خوتن ولاړ

نه دي تخنوم چناره سپين بدن

لاس مې د لیلا په سپين بدن ولاړ

ستا غوټۍ مې خوښې دي ماليار ه خو

اوس يم د پيۍ مخې په ديدن ولاړ

ځه چې په صحرا کې مېله جوړه کړو

دلته خو ماليار دی قهرجن ولاړ

کله چې دا ستا له غېږې پا څېږم

ژر شمه په فکر د وطن ولاړ

اوکراين-لووف

د ۱۹۹۲ ز کال اګست

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تنده

ما یې په وصال کې د کلونو تنده ماته کړه

غیږه کې یې ما نن د عمرونو تنده ماته کړه

چا یې ځواني خاورې کړه دیدن پسې پوهیږمه

ما یې په ځوانۍ د جنتونو تنده ماته کړه

چا یې ببلتانه کې د ځیگر د وینو جام که مات

ما یې پر پالنگ د وصالونو تنده ماته کړه

څوک یې د بوسې په تمه لیکي د غزل کتاب

ما یې د سرو شونډو په خوندونو تنده ماته کړه

څوک یې د گلونو په سرو پاڼو کې ښایست ویني

ما یې د سپین مخ په ښایستونو تنده ماته کړه

اوکراین-لووف

د ۱۹۹۳ز کال اپریل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انځورګره ځمکه

د پسرلي ناوې راوړې څه وربښمينې غوټۍ

چې د صحرا غاړه کې زانګې لونګينې غوټۍ

دلته چمن، دلته باغونه او سيندونه ناځي

دلته وربمې دي نڅوي د ناز حسينې غوټۍ

پيغلوټو څانګو په شنو زلفو کې ټومبلي دي نن

په تنکو ګوتو راته ښيي سرې او سپينې غوټۍ

دا نزاکت د پسرلي دی چې پر زړه مې لګي

د هوس سترګو ته مې نيسي نازنيني غوټۍ

دا انځورګره ځمکه څه ماهر لاسونه لري

په خړو ګوتو جوړوي راته رنګينې غوټۍ

اوکراين-لووف

د ۱۹۹۳ز کال مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سکروټې

ساه مو لوګی چې بند په بند تېروي

سينه سکروټو کې څه ژوند تېروي

زموږ د تورو د پوالو غاښونه

دا سره اورونه په څه خوند تېروي

وخت د باروتو د بلا خېټې ته

ډ کې منګولې په ښه شخوند تېروي

خپله په سرو وينو کې عرق تر ستوني

بل ته ټول عمر دوی په پند تېروي

ډبرين زړونه، ډبرينې سترګې

تورې لوخړې په ابلبند تېروي

څه سرې خورې د وخت ټوکې شولې

ژوندي سرونه لکه قند تېروي

روسيه- مسکو

د ۱۹۹۵ زکال سيپټمبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خوب کیسه

بیګا مې ولیده زمری په خوب کې

لویه تنه، ببر مغزی په خوب کې

پلار مې یې غاړه کې ځنځیر تړلی

لکه یو چا چې وي اسیر تړلی

کله یې ځان سره چکر ته بوزي

کله یې د کلي ماذدیګر ته بوزي

ده ته تابع خو موږ ډاریږو ترینه

په هر نظر کې ډېر لړزیږو ترینه

پلار راته وایي، بچو مه ویریږئ

زما له یاره تاسو څه ویریږئ ؟

داسې ښکاریږي چې یې یار وي مین

شخو بریتو باندې د پلار وي مین

په یوه کوټه کې هره شپه خوب کوي

زما له پلار سره جوړه خوب کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشنا دا خوب راته تعبیر غوندې کړه

په پښتو ژبه یې تفسیر غوندې کړه

روسیه- مسکو

د ۱۹۹۲ ز کال جون

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

شبنم نه دي د غاړې مرغلره جوړوم

ښکلا ته دي امېل له سپین سحره جوړوم

گلونه د نړۍ دي ښکلې ستا له سره جار شي

ټالونه دي په زلفو کې دلبره جوړوم

بوسه د اننگو دي په ثواب کې راته راکړه

شربت د سپینې خولې دي له کوثره جوړوم

نظر دې لکه اس زما په زړه وزلوبه کاندي

میدان ورته د منډو له ځیگره جوړوم

هنر دي په ښکلا کې راته څومره ښه ساتلی

جانانه له ښایست نه دي سندره جوړوم

روسیه-مسکو

د ۱۹۹۲ ز کال اگست

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګاونډیان

ښکلي تي لرونکي او مرغان شته طبیعت کې
ځنګ کې ورسره خزنده ګان شته طبیعت کې
پورته په هوا کې، لاندې ځمکه، سمندر کې
زانه هم غرڅه، پیل او کبان شته طبیعت کې
ښکلي شنه باغونه د توتیانو په غږ مست دي
ډک دي چمنونه، بلبلان شته طبیعت کې
دښتې د شاهین د افریقا که د اسیا دي
غرونو کې نامتو یې هم بازان شته طبیعت کې
وړاندې په ځنګله کې د زمریانو غږمبهار دی
بل خوا ته ګیدړې او سویان شته طبیعت کې
پاس د سایبیریا سختو سړو کې یږې ګرزي
هلته هندوستان کې بیزوګان شته طبیعت کې
زهر یې انسان علاجوي او هم یې وژني
دغسې عجیب غوندې ماران شته طبیعت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل خواته د شاتو مچۍ زبېښي سره ګلونه

ډک يې مېلمه پاله ګبينان شته طبيعت کې

ستړي له کاروانه مو اسونه او کچر دي

داسې دور منزله لا اوښان شته طبيعت کې

غوښې که هګۍ دي، که پوستکې يا وړۍ دي

وړۍ ورته موږ غوندې انسان شته طبيعت کې

فکر ورته وکړه، موږه ټول يو د دې کلي

څنګ کې را سره همسايه ګان شته طبيعت کې

روسيه-مسکو

د ۱۹۹۲ ز کال سيپټمبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# داستان

د مينې ياد کې دې ليکم د څو سلګيو داستان

د زړه قلم ته ورکوم د رنګينيو داستان

دوه اتلان دې دي د سترګو چې حملې کوي تل

خو په ادب کې جوړوي د دوو غميو داستان

غلچک نظر دې راته راوړي د سکروټو لپه

د زړه له تله جوړوي د شنو لوګيو داستان

ستا په الهام شمه شبنم، اوبه اوبه شمه زه

د زلفو تار کې دې ليکم د سرو غوټيو داستان

د مخ استاد چې دې رازده کړه د ښکلا شاعري

ورته به دود کړمه د ژوند د سپيلنيو داستان

روسيه-مسکو

د ۱۹۹۲ ز کال سيپټمبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شپو حلالول

نن په لاس کې مې چړې دي شوګیرې حلالوم

لکه لمر ورپسې ګرزم تورې شپې حلالوم

د سحر ناوکۍ راشه د زړه درد مې که راوینس لړ

په فریاد مې د ظلمونو تماشې حلالوم

د ځنګله څنې کړه غوړې اې بارانه په عطرونو

خوشبویي ته دې موسمه حادثې حلالوم

د تنکیو هیلو باغ ته یې زما تبر نیولی

د دې پڅو هوسونو به شېبې حلالوم

ماذدیګره ته خو ولاړې، په سپېدو مې سلام وایه

هره ورځ یې په ارمان کې اند ښنې حلالوم

اې د خیال ښکلې نقاشه، ته استاد زه به شاګرد شم

منظره به د بدرنګې زمانې حلالوم

روسیه-مسکو

د ۱۹۹۲ ز کال سیپتمبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زاهد ته

زاهده تا په ژوند کې څه لیدلي

نه دي ترخه، نه دي خواږه لیدلي

سپیره خلوت، سپیره پرهیز کې اوسې

نه دي موسکا ، نه دي لېمه لیدلي

ستا د جنت غلمان مې ستا په تعبیر

د حورو منځ کې ډېر پراته لیدلي

ته د هغې نړۍ کوثر ته یې ناست

د خیال په خوب کې دې ویده لیدلي

راځه مېلمه شه، د جام خوند وڅکه

د ساقي سترګو رپیده لیدلي

په دې دنیا کې یو خومار ووینه

ما د لیلا لیمو کې ښه لیدلي

یو وار صوفي شه، دوه ثوابه وکړه

هغه دا دواړه ما لیده، لیدلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

روسیه-مسکو

د ۱۹۹۲ زکال اکتوبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زه يې وينم

دا دنيا د ظلم کور دی زه يې وينم

پکې ځکه شر او شور دی زه يې وينم

بده ورځ د غريبانو په قسمت ده

له ازله يې بخت تور دی زه يې وينم

چا د بل پر برخه خېټه اچولې

د قدرت پر نيلي سپور دی زه يې وينم

هم يې کور په سرو لمبو د مظلوم وسو

ډېر يې کړی تېری زور دی زه يې وينم

پکې سوځي وروسته پاتې ملتونه

دغه دابن او دغه اور دی زه يې وينم

روسيه-مسکو

د ۱۹۹۲ ز کال اکتوبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلوريزې

د ارمان د زړه په کور کې
اميدونه دي په شور کې
که يو غلى سحر راشي
تورې شپې به په يو لور کي

***

وچه لاروچ يې ګودر دى
وچې شونډې، تږى لمر دى
وچې دښتې دي بې پايه
د باران پر لور سفر دى

روسيه-مسکو

د ۱۹۹۷ زکال نوامبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ارمونیه

زه د دې خوږینې ارمونیې پر سینه

د نیمې شپې د ترانې پر سینه

د زړه لاسونه ښکته پورته کوم

د زړه غړونه ښکته پورته کوم

غواړم د مینې یو غزل ونیسم

د شعر په لاس د هنر گل ونیسم

غواړم پردو کې یې نڅا مسته کړم

د پیغلو مینه او موسکا مسته کړم

خو ارمونیه زما د گوتو پر مخ

زما د زړه د لاس د گوتو پر مخ

غواړي د سترې ژوند خولې ماتې کړي

یو څو سرې سرې نغمې ماتې کړي

زه پرې اواز د یا قربان وباسم

د غوږ پردې پرې د اسمان وباسم

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوارم چې واوري د ژوندون یاغیتوب

د خوشالۍ د لار د یون یاغیتوب

تل به یې شور کې زلمیتوب غږوم

دې ژوند ته ښکلی یاغیتوب غږوم

روسیه-مسکو

د ۱۹۹۸ ز کال فبروري

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ناکامه لوبه

چې له موربه ان تېر شولو په څنګ کې

د قسمت ګرېوان مو څيري شو په جنګ کې

موږ په خپلو ککريو لوبې کړې

يو د بل ګرېوان نيولی په غورځنګ کې

موږ د خپلو وينو دارو ته مستي کړو

دغه کار مو حساب کړی دی په ننګ کې

د باغ پېغله مو زخمونه ښکلوي خپل

سره غمونه يې نڅېږي په پالنګ کې

څه ناکامه او بې سوره ساتيري ده

چې يارانو کوټ خوړلی دی په رنګ کې

روسيه-مسکو

د ۱۹۹۸ ز کال فبروري

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مخامخ

ستا د مخ لیدو ته مخامخ یمه

ګل غوندې سپرلو ته مخامخ یمه

ربړ غوندې تاو درنه نظر مې شو

ستا دوو لیندو ته مخامخ یمه

زما او ستا نظر چې غبرږ په غبرږ شولو

زړه یمه ښیښو ته مخامخ یمه

ستا د مینې باغ راته پغمان شولو

لاس شو مه منهو ته مخامخ یمه

تاک وی که انګور وی ستا په شونډو کې

رند یمه پیالو ته مخامخ یمه

ستا د خولو سیند کې چې لامبو وهم

کانې یم اوبو ته مخامخ یمه

روسیه-مسکو

د ۱۹۹۸ ز کال می

(c) ketabton.com: The Digital Library

# البوم

مستې مستې پيالې راکړه

ساقي بيا يمه راغلی

د يو خوم په تماشه کې

غواړم تېر يادونه ياد کړم

د وطن د لوړو غرونو

چې سپېدو ته هر کلی کړي

او پر خپلو اوږو باندې

نازوي د سحر ناوې

راته وښيه درې چې

د شپېلۍ پکې نغمې وي

د شپانه د گوتو ريتم

وي رمې په گډا کړې

راته ښيه په ځنگله کې

رنگينه ښکلا د ونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې رنګین لړي په زړه کې

د غوټیو ارمانونه

راته ښیه خړ کورونه

چې لړګینې دروازې یې

د کلونو په ټال زانګې

لویوي نوي نسلونه

په پیاوړې سینه زغمې

د شپو ورځو قدمونه

راته ښیه په هر سیند کې

د سخي څپو زړګی چې

تویوي پر ځمکه مینه

جوړوي له شنو رنګونو

د غنمو امیلونه

ساقي راکړه یو څه نور هم

پیمانه کړه راته ډکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د خیال له سترګو لري

کړه د غم ټپي تصویر چې

نور مې بد ورنه راغلي.

راته راکړه په پیاله کې

یو البوم د ژوندانه چې

د خوښۍ یو څو خوماره

یې په سترګو کې ژوندي وي.

روسیه-مسکو

د ۱۹۹۸ز کال جولای

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ناجوړه لار

زموږ د ستړیو ستړیو هیلو

ارمانونو لارې،

سپیره ټپونه سرې سینې پورې

کتار تړلي

زموږ د زړه د لویو غرونو

د غرور غېږه کې یې

د مایوسۍ چاړه ټومبلې نېغه

اوس زموږ ستړې هیلې

ګوره دعا کوي

اسمان ته ګوري

ګوندې چې خدای یې کړي دعا قبوله.

روسیه-مسکو

د ۱۹۹۸ ز کال جولای

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ویده جشن

تېر شوه، ډېر کلونه تېر شوه

زموږ جشن ویده شوی

په خوښۍ کې په سرو سترګو

خپلې اوښکې څڅوو موږ

د غمجنې موسکا خوله کې

مو د سرو وینو مستي ده.

دلته هر چاته خوښي شته

هم د لوی هم د واړه شته

د هر چا پېغله خندا ده

د هر چا زړونه زلمي دي.

په دې تکو شنو کوڅو کې

د مالت د هرې ونې

ژوند په مینه پیل شوی

هم په ښار هم په ځنګلو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هره پاڼه، هر ګلبوټی

په رنګینو سترګو خاندي.

خوښي تل دلته اوسيږي

دا يې کور او دا يې اور دی

هره ورځ زيږوي نوي

نوي نوي اميدونه.

تېر شوه، ډېر کلونه تېر شوه

خو زموږ د کلي خلک

ناست د غم پر سره انګار دي

ځمکه ډکه له سکروټو

او اسمان لمبه لمبه دی

نه اختر لري، نه جشن

اميدونه يې سنګسار دي

نه چا سترګې تورې کړې

نه چا ښځې غوړې کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ خوبښي ده سپېره کونډه

نه اتڼ شته، نه واده شته

زموږ شوق دی زخمی شوی

پښې مو نه جوړیږي ډول ته

زموږ اتڼ مرور شوی.

تېر شوه، ډېر کلونه تېر شوه

زموږ جشن لا ویده دی

نشته څوک پر دغه سیمه

چې له خوبه یې راویښ کړي.

روسیه-مسکو

د ۱۹۹۸ ز کال اګست

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ونه

ته د زمان پر اوږو گرزې، شنې سندرې وایې

تا د خزان په تکه زېړه خبره

څه جادویي غوندې شین چوف ویلی

ته د شنه ژوند زړه کې راخېژې او لو ېږې پسې،

خو پسرلی زېږوې.

ته د سره اوړي په تودو گوتو کې

لکه نکریزي شنه او سره رنگونه

ژوند ته اختر راولې.

ته د سپین ژمي په ساړه بدن کې

ساړه ساړه رگونه

ساړه ساړه اسویلي

په توده ساه بدلوې.

ته لکه دنگه، چته پېغله کوچۍ

د یون پر اوږ سپره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او شین سالو دې په سر

ورو ورو له ژونده سره،

پر یوه لاره درومې

بېره دې نشته،

زه پوهېږم په دې

ته یې د صبر ونه.

روسیه-مسکو

د ۱۹۹۸ ز کال اکتوبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مننه

له ښاغلي فخرالدين پتوال څخه د زړه له کومي مننه کوم چې د دې کتاب د چاپ مالي لګښت يې کړی دی. د دوی فرهنګي احساس د قدر وړ ګڼم، کور دې يې ودان وي.

ددې کتاب کمپيوټري لګښت ښاغلي عبدالولي سرتور پر غاړه واخيست، له دوی نه هم ډېره مننه کوم، د ژوند په ټولو چارو کې دې يې خدای (ج) بريالی لري.

م. ط. کانی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لنډه پېژندنه

نوم: محمدطاهر کلې.

دزوکړې ځای: دکندز ولایت د دښت ارچي د ولسوالۍ دشېرخان ځم (دسلیمانخیلو کلي) ۱۳۴۴.

زده کړې: لومړنۍ، د دښت ارچي د ولسوالي ددوران کلي لومړنۍ ښوونځی.

منځنۍ: دکابل درحمان بابا لیسه، ۱۳۶۳ ل کال.

لوړې: داوکرائين جمهوريت، دلووف دښار پوهنتون، دټولنیزو او کلتوري علومو پوهنځی، ۱۹۹۱ زیږدیز کال.

محمد طاهر کلې له ۱۹۹۶ کال راهیسې په مطبوعاتو کې کار پیل کړی دی. دی په ۱۹۹۷ کال کې له مسکوه دخپرېدونکې ورځپاڼې (اواز) مسؤول مدیر. وروسته بیاده په ۱۹۹۹ کال کې له مسکو نه دخپرېدونکې اونیزې (کابل) چلول په غاړه درلودل.

تنکي پڼې دده لومړنی چاپي اثر دی.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library